# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۲۴مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۱۵مه | دریم کال| ۴۰۴مه گڼه


## هیواد

۴ مخ

### ټایلنډ

د ټایلنډ ۴۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۳ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راوړي.



# د جنایت او وحشت دوام؛
# ګڼو ځواکونو یو ځل بیا په وردګو کې ملکي وګړي وژلي دي



۳

## په دارالامان کې د ۲۷ اداري واحدونو د بنسټ ډبره کېښودل شوه



ولسمشر محمد اشرف غني د کابل په دارالامان سیمه کې د ۲۷ اداري واحدونو لپاره د کمپلکس د بنسټ ډبره کېښوده.

محمد اشرف غني پرون د دغه کمپلکس د بنسټ ډبرې تر اېښودلو وروسته په ارګ کې یوې غونډې ته وویل، د هرې ودانۍ پر ډیزاین تر دوو کلونو زیات وخت کار شوی دی.

غني زیاته کړه: «دوه نیم کاله مو له شرکت سره پر دې کار وکړ چې څه باید چېرته وي، په پایله کې د کابل د راتلونکي لپاره په شپږو جلدونو کې یو واضح لیدلوری رامنځته شو، چې انشاالله راتلونکي څلورسوه کاله به کابل ته جهت ورکړي، د دغه کمپلکس د هر یو تعمیر ډیزاین له یوه تر دوو نیمو کلونو وخت نیولی دی».

په ورته وخت کې د ښار جوړونې وزارت ویلي چې دغه اداري واحدونه به پر ۱۰۰ هکټاره ځمکه جوړ شي. خو دا لا نه ده معلومه چې د دولتي ودانیو دغه کمپلکس به په څومره وخت کې جوړ او د استفادې وړ شي.

### ارګ ته د ملکیانو ژوند ولې مهم نه دی!؟

۲ مخ

### همبستګی ترکیه-افغانستان در سیستم آموزشی

۲ مخ

### زلمي خلیلزاد ته پرانیستی لیک

۳ مخ

## پنټاګون: په تېرو پنځو میاشتو کې په افغانستان کې ۳۱۶۳ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون په خپل تازه راپور کې ویلي، د روان ۲۰۱۹ ز کال په لومړیو پنځو میاشتو کې په افغانستان کې د تاوتریخوالي په پېښو کې ۳۱۶۳ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. دفاع وزارت تازه د امریکا کانګرېس ته د خپل امنیتي راپور وړاندې کولو پر مهال ویلي، چې د یادو ملکیانو له ډلې ۹۵۰ تنه وژل شوي او ۲۲۱۳ نور ټپیان شوي دي.

په دغه راپور کې ویل شوي چې د یادو کسانو له ډلې ۷۷۸ تنه د وسله والو مخالفینو له خوا وژل شوي او ۱۹۷۱ نور ټپیان شوي دي.

پر همدې مهال په افغانستان کې د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ مسوولین هم د ملکي تلفاتو د شمېر زیاتوالي ته په اشارې وایي، چې یوازې په روانه میاشت کې ۱۹۰ ملکیان وژل شوي او نږدې درې سوه نور ټپیان شوي دي. د دغه ګروپ د چارواکو په خبره: «په تېرو لسو ورځو کې په هوایي بریدونو او شپنیو عملیاتو کې ملکي مرګ ژوبله زیاته شوې ده. طالبانو هم د سولې د خبرو د پیل سره سم له احتیاط څخه کار نه دی اخیستی، ځانمرګي او موټر بم بریدونه یې کړي دي».

دا په داسې حال کې ده چې طالبانو روانه میاشت په غزني او کابل کې خونړي موټربم او ډله ییز بریدونه وکړل چې لسګونو ملکیانو ته یې مرګ ژوبله واړوله. د امریکا دفاع وزارت داسې مهال په افغانستان کې د روانو پنځو میاشتو په اوږدو کې د ملکي تلفاتو د زیاتېدو خبره کوي چې په افغانستان کې د روانې جګړې ختمولو په تړاو هڅې تر بل هر وخت زیاتې شوې دي.

## د ولسمشریزو ټاکنو بودجه تر اوسه په رسمي توګه نه ده راکړل شوې



۲ مخ

## سازمان ملل متحد: اتهام‌های اخیر در باره بهره‌گیری جنسی در ارگ باید بررسی شوند



نمایندهٔ سازمان ملل متحد در امور حقوق بشر در افغانستان، از اتهام‌ها دربارهٔ بهره‌گیری جنسی از زنان و ترویج فحشا در ارگ ریاست‌جمهوری نگران است. ریچارد بینت که دیروز در «کنفرانس ملی هماهنگی نهادهای مبارزه با خشونت علیه زنان» در کابل سخن می‌زد، بر رسیده‌گی به این اتهام‌ها تأکید کرد.


او گفت: «اگر به آزار و اذیت در محیط کار، به‌گونهٔ درست رسیده‌گی نشود، محیط کار ناامن می‌شود، بر شهرت حرفه‌یی نهاد اثر می‌گذارد، مانع بهره وری می‌شود و به گونه کلی بر محیط کار اثرهای منفی می‌گذارد. محیط کار امن، حق همه‌گان است، به شمول کارمندان و همکاران زن. یک محیط امن که دسترسی را به عدالت فراهم بسازد، انتظار هر شهروند افغانستان است، به شمول زنان آزار و اذیت دیده که با شکایت‌های شان، از شما کمک می‌خواهند».

این در حالی است که در حدود یک ماه پیش، حبیب‌الله احمدزی، مشاور پیشین رئیس‌جمهور ادعا کرد که حلقه‌هایی در ارگ ریاست‌جمهوری حضور دارند که در بدل تقرر زنان در حکومت از آنان «رشوهٔ جنسی» می‌گیرند.

در عین حال چهار روز پیش، بی بی سی نیز گزارشی را نشر کرد که بر مبنی آن شماری از زنان گفته‌اند که افراد نزدیک به رئیس‌جمهور از آنان تقاضای جنسی کرده‌اند.

سرور دانش، معاون دوم رئیس‌جمهور نیز که در مراسم دیروز سخن می‌زد، این اتهام‌ها را یک آوازه دانست، اما گفت که هرگاه چنین اتهام‌ها ثابت شوند، متهمان باید زیر پیگرد عدلی و قضایی قرار بگیرند.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019



Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696

Shigal English Academy

www.shigal.edu.af

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

# ارگ ته د ملکیانو ژوند ولې مهم نه دی!؟

د ملکي وگړو د وژنو په لړ کې یو ځل بیا گډو ځواکونو په وردگو کې عملیات کړي چې ۱۴ ملکي وگړي یې وژلي او څو نور کسان یې له ځان سره بېولي دي. سیمه ییز خلک وایي چې ډېری وژل شوي ملکیان دي، خو چارواکي وایي طالبان یې وژلي دي. وروستۍ ویډیوگانې هم ښیي چې په پېښه کې ملکیان وژل شوي دي. څو ورځې وړاندې هم گډو ځواکونو په وردگو کې پر یو روغتون برید وکړ چې څلور روغتیایي کارکوونکي یې ووژل او یو بل یې له ځان سره یووړ. په همدغه شپه په یو بل هوایي برید کې په بغلان کې یوه مور او د هغه شپږ ماشومان هم ووژل.

حکومت د دې ټولو بریدونو پر وړاندې چوپ دی. نه یې د مخنیوي لپاره څه کوي او نه یې هم عاملانو ته د جزا خبره کوي. اوس اساسي پوښتنه دا ده چې حکومت ولې د خپلو وگړو د وژنې پر وړاندې داسې پټه خوله دی؟

د ملکي وگړو وژنه په دې وروستیو کې ښېخي زیاته شوې ده. تازه د امریکا دفاع وزارت ویلي، په افغانستان کې د روان کال په لومړیو پنځو میاشتو کې ۳۱۶۳ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده. پنټاگون په خپل تازه راپور کې ویلي، د یادو ملکیانو له ډلې ۹۵۰ تنه وژل شوي او ۲۲۱۳ تنه نور ژوبل شوي دي. نورې خپلواکې سرچینې بیا دا شمېر تر دې لوړ ښیي.

د ملکي وگړو زیاته مرگ ژوبله د حکومت او بهرنیو ځواکونو له خوا ده چې له امله یې حکومت له پراخو کورنیو او بهرنیو غبرگونونو سره مخ شوی دی، خو لا هم حکومت دې چارې ته اهمیت نه ورکوي. که څه هم حکومت پخوا د ملکي وگړو د ژوند د خوندیتوب د کړنلارو او پلانونو خبره کړې وه، خو نه یوازې دا چې ملکي مرگ ژوبله کمه نه شوه، بلکې ورځ تر بلې زیاتېږي. په تېرو کلونو کې به چې نړیوالو سازمانونو او د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې د مخنیوي لپاره جوړو شوو سازمانونو رپوټونه خپرول، تل به یې طالبان او نور وسله وال د زیاتې ملکي مرگ ژوبلې لامل گڼل، خو اوس وایي چې تر وسله والو طالبانو ډېر ملکي وگړي حکومت او امریکایي ځواکونو وژلي دي.

حکومت په داسې حال کې د ملکي وگړو وژنې زیاتوي او پر وړاندې یې بې تفاوته دی چې له یوه اړخه د سولې خبرې رواني دي او له بله اړخه د جگړې پر اړخونو فشار دی چې ملکي مرگ ژوبله او تاوتریخوالی کم کړي.

داسې ښکاري چې د دغو وژنو اصلي لاملین بهرني ځواکونه دي. یا لږ تر لږه د هغوی په خوښه او غوښتنه دا بریدونه کېږي. واضح ده چې دا بریدونه او د ملکي وگړو دا ډول وژل د حکومت له اوس او راتلونکي سره مرسته نه کوي، نو ځکه ویلی شو چې دا بریدونه د بهرنیانو د موخو لپاره کېږي. امریکا ښایي د دې لپاره چې پر طالبان فشار راوړي، یا هم د دې لپاره چې د طالبانو د نظامیانو او سیاستوالو ترمنځ واټن پیدا کړي او یا هم د کوم بل هدف لپاره غواړي ملکي وگړي په داسې وحشت سره ووژل شي.

د ملکي وگړو وروستۍ مرگ ژوبله په هېڅ ډول د زغم وړ نه ده. خلک به یې پر وړاندې چوپ پاتې نه شي او هغوی چې له خلکو سره په دغه دښمنۍ کې ښکېل دي، د دغو وحشتونو درنه بیه به پرې کړي.



# همبستگی ترکیه-افغانستان در سیستم آموزشی

نویسنده: اوغوزخان ارطغرل سفیر کبیر جمهوری ترکیه در افغانستان

ترکیه در این هفته، سومین سال کودتای نافرجام پانزده جولای ۲۰۱۶ میلادی که از جانب فتح الله گولن و شبکه تروریستی او سازماندهی شده بود، را گرامی می دارد. این تعرض بالای نهادهای دموکراتیک ترکیه سبب کشتار بیش از ۲۵۰ و زخمی شدن بیش از ۲۰۰۰ تن گردید بود.

کودتا کنندگان، در تاریخ ترکیه اولین بار مجلس نمایندگان، ارگ ریاست جمهوری و اماکن استراتیژک بی‌شماری را تحت هدف تروریستی خود قرار داده بودند. در شهرهای انقره و استانبول، مظاهره کنندگان ملکی و مخالف به تشبس کودتا با شلیک گلوله‌ها کشته شدند. این کودتا، تعرضی آشکار به حکومت مشروع و منتخب و اراده آزاد مردم بود.

درایت و جدیت شهروندان ترکیه و وابستگی قوی آنها به حقوق دموکراتیک شان، مانع تهدید که سال‌ها باعث بی استقراری ترکیه و همسایگان این کشور می شد، گردید. از سوی دیگر، مردم ترکیه، در حفظ و نگهداری دموکراسی تنها نبودند. حکومت افغانستان، در میان نکوهش کنندگان و از جمله اولین کشورهای بود که بعد از واقعه همبستگی خویش را نشان داده است. با اکثر برادرهای افغان ما که در مدت دو سال معرفی شدم، می گویند که رخداد واقع شده در ترکیه را تا صبح با دقت کامل تعقیب کرده و بخاطر رفاه و آرامش کشوریکه با آن پیوند برادری دارند، دعا نموده اند.

دلایل جمع آوری شده در جریان محکمه در نتیجه تحقیقات و بررسی، این حمله تروریستی خونین تاریخ ترکیه تا امروز، بیانگر آن است که امر کودتا را فتح الله گولن صادر نموده و از طرف شبکه تروریستی متعلق به وی صورت گرفته است. به تاریخ مذکور، فتح الله گولن با هوادارانش می خواست جمهوری ترکیه را به زور بدست بگیرند.

از اینرو، قضاوت و محدود ساختن اعمال تروریستی فتح الله گولن و شبکه تروریستی او در کودتای نافرجام ۱۵ جولای ترکیه کاری بسنده نخواهد بود؛ بلکه جرایم که در آن شب صورت گرفته، تنها قسمت بیرونی کوه یخ است.

تمامی برنامه های وی در سال ۱۹۷۰ میلادی تحت نام فعالیت‌های آموزشی خیریه آغاز گردید. فتح الله گولن وهوادارانش در حین تأسیس مکاتب در ترکیه و کشورهای دیگر، خودشان را بحیث مدافع و حامی تعلیم و تربیه جلوه می دادند. در این موقع حدود هزار مکتب را در کشور ترکیه و تقریباً ۸۰۰ نهاد آموزشی را در نقاط مختلف جهان، تحت کنترول خود داشتند.

گولن، در حدود سی سال هواداران ترکی خویش را به نفوذ در نهادهای دولتی مانند نیروهای مسلح و قوه قضائیه تشویق نموده است. در دهه اخیر ترکیه، شبکه تروریستی فتح الله گولن تمام امتحانات که در این کشور برگزار می‌شد، سوالات و جوابات آنرا قبل از قبل به طرفداران و دانش آموزان تحت حمایت خویش پخش و توزیع می کرد.

منسوبین شبکه تروریستی فتح الله گولن به مقام‌های بلندپایه دولتی نفوذ نموده و از صلاحیت شان جهت اخراج مخالفین از طریق توطئه‌های دروغین خود به دستگیری‌های غیرقانونی و گوش دادن به تیلفون‌ها بشکل غیرقانونی سوء استفاده نموده است. به سیاسیون، تاجران، روزنامه نگاران، ورزشکاران و هنرمندان فشار وارد کرده اند. در نتیجه، این شبکه خودش را یک حرکت آموزشی جلوه داده و با کنترول تدریجی درون حکومتی جهت تحول مخفی جامعه به ساختار عملیاتی مبدل گردیده است. شبکه تروریستی فتح الله گولن با استحکام تاثیر اش به مداخله به امور تجارتی و روند قردادهای دولتی آغاز نموده، به این شکل پول شویی به اندازه زیاد، انتقال غیر قانونی پول و جرایم مالی دیگر به شکل عادی تبدل شده است.

امروز، شبکه تروریستی فتح الله گولن در ۱۶۰ کشور هزاران مکتب، محلات کار، انجوها و نهادهای رسانه‌ای را در اختیار خود دارد. طرز فعالیت این شبکه به طور عموم در نقاط مختلف دنیا یکسان می باشد. این شبکه تروریستی با اینکه تاثیر سیاسی و اقتصادی جهانی خویش را عمیقتر و وسیعتر نموده، اما برای کشورهای تحت فعالیت اش مستقیماً یک تهدید امنیتی به شمار میرود. افغانستان نیز یکی ازین کشورها می باشد.

در افغانستان انجوی تحت رهبری شبکه تروریستی فتح الله گولن بنام نهاد آموزشی چاغ ایجکشنل یا مکاتب افغان-ترک نزدیک به ۲۰ سال است که به دانش آموزان افغان آموزش می دادند. در حقیقت این انجو، زیر مجموعه شبکه وسیع تروریستی فتح الله گولن و منسوبین اش جهت تنظیم فعالیت دسیسه‌یی آنها تمویل می گردد. بنابر این، عواید تمامی این مکتب‌ها را به احتمال قوی خارج از افغانستان انتقال می دادند. در جریان این ماه، حین بازدید از لیسه مومن افغان-ترک جلال آباد، شخصاً به این موضوع شاهد بودم. در ماه مارچ هنگام انتقال این مکتب به بنیاد معارف ترکیه چنان نابسامان و غیر منظم بود که ارایه خدمات آموزشی خصوصی در چنین خرابه باور نکردنی است. حالا تمام زیر ساخت مکتب مذکور را بازسازی نمودیم. در عین زمان قبل از آغاز سال تعلیمی در کنار مکتب یک سالن کنفرانس، تعمیر لیلیه و همچنان به سال آینده جهت ایجاد یک باب مکتب اناث وعده سپرده ایم.


مکتب جلال آباد یکی از این نمونه ها است. وزارت‌های معارف افغانستان و ترکیه سال گذشته یک تفاهم‌نامه مشترک امضا نمودند. در این تفاهم‌نامه هردو وزارت تصمیم گرفتند ۱۵ باب مکتب و مرکز آموزشی را به بنیاد معارف ترکیه انتقال دهند. کشور ترکیه در این تفاهم‌نامه ارتقای کیفیت آموزش مکاتب، ایجاد مکاتب جدید در نقاط مختلف افغانستان، تخفیف در فیس دانش آموزان، ارایه خدمات آموزشی رایگان برای بازماندگان شهدا، فراهم‌سازی بورسیه‌های تحصیلی ترکیه برای فارغین با نمرات بالا و سرمایه‌گذاری عواید به دست‌آمده از مکاتب در بخش‌های تعلیم و تربیه در افغانستان را تعهد نموده است.

بعد از ماه اپریل سال گذشته انتقال مکاتب افغان ترک جوزجان، قندهار، بلخ، ننگرهار، هرات و در اخیر هم مکاتب کابل به بنیاد معارف ترکیه پیشرفت‌های قابل ملاحظه در این مکاتب دیده می‌شود.

مردم شرافتمند افغانستان به تحولات مثبت مکاتب معارف افغان-ترک تحت مدیریت بنیاد معارف ترکیه و متعهد ماندن دولت ترکیه به تعهدات خویش شاهد می‌باشند و نظر به توجه خاص دولت ترکیه در بخش تعلیم و تربیه و به درخواست مردم عزتمند افغانستان بورسیه‌های تحصیلی سالانه ترکیه برای افغانستان افزایش یافته است.

ترکیه، به تعهدات اش در قبال افغانستان پابند بوده، این موضوع نه تنها جهت خاتمه بخشیدن به تهدید مشترک از جانب شبکه تروریستی فتح الله گولن نبوده، بلکه روابط دیرینه با مردم با هم برادر افغانستان و ترکیه بوده که در مقاطع مختلف زمانی بارها ثابت شده است. از سوی دیگر، سرمایه گذاری در بخش‌های آموزشی، سرمایه گذاری به آینده افغانستان می باشد. در صورت تقاضای همکاری از جانب مردم افغانستان، این همکاری ها ادامه خواهد یافت.

# بهیر: ځینې ټاکنیز ټیمونه راتلونکو ټاکنو ته د یوه واحد ټکټ په جوړولو کار کوي



د ولسمشریزو ټاکنو د مهالوېش له را نږدې کېدو سره هممهاله ځینې انتخاباتي ټیمونه د یوه واحد ټکټ د رامنځته کېدو په تړاو هڅې کوي.

د ولسمشریزو ټاکنو ټکټونو استازي وایي، چې د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیم، د حنیف اتمر په مشرۍ د سولې او اعتدال او د گلبدین حکمتیار په مشرۍ د سولې او عدالت ټاکنیزو ټیمونو د یوه واحد ټکټ د رامنځته کېدو په پرنسیپ هوکړه کړې ده.

دغه ټاکنیز ټیمونه به تر ټاکنو مخکې یو مشخص ټکټ وړاندې کوي.

د حزب سلامي د رهبرۍ شورا غړی غیرت بهیر په دې اړه وایي: « ابتدایي ناستې شوې دي، تر اوسه پورې په جزیاتو خبرې نه دي شوې، خو په دې توافق شوی چې مهم کاندیدان باید تر یوه ټکټ لاندې ټاکنو ته راوړاندې شي».

په ورته وخت کې د حنیف اتمر ټاکنیز ټکټ د ټیمونو یو ځای کېدل مني او وایي، په دې اړه کار روان دی او ممکن د حنیف اتمر، عبدالله عبدالله او گلبدین حکمتیار ټاکنیز ټکټونه سره یوځای شي.

دوی وایي، په دې موخه د ټیمونو په ائتلاف کار کوي، چې په راتلونکو ټاکنو کې شفافیت تضمین او د درغلۍ مخه ونیول شي.

د حنیف اتمر ټاکنیز ټیم ویاند قادر شاه وایي: « د ډاکتر صېب عبدالله او حکمتیار صېب د ټاکنیزو ټیمونو په گډون د بېلابېلو ټاکنیزو ټیمونو سره په لوړه کچه خبرې شوي دي، تر څو موږ وتوانېږو چې په راتلونکو ټاکنو کې د فساد مخنیوي لپاره یو کډ فکر ته ورسېږو».

دغه ټاکنیز ټیمونه وایي، چې د ولسمشر غني وروستیو گومارنو او کمپاینې اقداماتو اندېښمن کړي، نو د راتلونکو ټاکنو د شفافیت او د ملي یووالي د تضمین په موخه به دغه انتخاباتي ټکټونه سره یوځای کېږي.

دغو ټاکنیزو ټکټونو داسې مهال د یو واحد ټکټ په جوړېدو کار پیل کړی او په پرنسیپ کې د توافق خبره کوي، چې راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته شاوخوا دوې میاشتې پاتې دي.

# ملگري ملتونه: افغانستان ته راستانه شوي کډوال له ډېرو ستونزو سره مخ دي

د کډوالو په چارو کې د ملگرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د تازه راپور له مخې، له ۲۰۱۴ نه تر ۲۰۱۷ ز کال پورې افغانستان ته راستانه شوي کډوال د هغو کډوالو په پرتله چې په پاکستان کې اوسېږي، له زیاتو ستونزو سره مخ دي.

د کډوالو په چارو کې د ملگرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ له خوا رسنیو ته په لېږل شوې اعلامیه کې اقتصادي ستونزې، بېکاري، د ښوونیزو او روغتیایي فرصتونو نشتوالی د راستنو شوو افغان کډوالو د لویو ستونزو په توگه یاد شوي دي.

د راپور له مخې، افغانستان ته د راستنو شویو کډوالو یو پر دریېمه برخه د خپلو اصلي ولایتونو پر ځای، په کابل او ننگرهار کې ځای پر ځای شوي چې د هغو کډوالو په پرتله چې په خپلو ولایتونو کې مېشت دي، له ډېرو ستونزو سره مخ دي.

د راپور چمتو کوونکو افغانستان ته د راستنو شویو کډوالو ستونزو ته د ژر تر ژره رسیدگۍ غوښتنه کړې ده.

په راپور کې راغلي: «هغو سختو شرایطو ته په کتو سره چې افغان کډوال ورسره مخ دي؛ اړینه ده چې د دوی ستونزو ته د رسېدنې په موخه یو لړ ببړني او هر اړخیز گامونه د اړوندو ادارو له خوا طرحه او عملي شي».

دغه راپور داسې مهال خپرېږي چې په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د مشر کارولین وان بورین د معلوماتو له مخې، ۲۰۱۹ ز کال له خپل



هېواد ښخه د افغانانو د اجباري کډوالۍ د پیل له څلوېښتمې کلیزې سره سمون خوري.

بلخوا د افغانستان د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت هم د کډوالو د شمېر زیاتوالي ته په کتو ستونزې مني، خو وایي، کډوالو ته د کار او ځای پیدا کولو په موخه له بېلابېلو نړیوالو بنسټونو سره پر دوو برنامو کار کوي.

د دغه وزارت د ویاند مرستیال رضا باهر، رسنیو ته ویلي چې یاد وزارت د تېرو څلورو کلونو په اوږدو کې هېواد ته د راستنو شویو یولک او ۲۰ زرو کډوالو لپاره لنډمهاله کاري فرصتونه برابر کړي دي.

هغه ویلي: «بیا هم ستونزې شته، په دې مانا چې د راستنېدونکو کډوالو شمېر زیات دی، موږ یوازې په تېرو څلورو کلونو کې یولک او شل زره کډوالو ته د کار زمینه برابره کړې ده، چې دغه کاري زمینه موقته وه، چې تر یوې لنډې مودې وروسته هغوی بېرته بېکاره شوي او ستونزې نه دي حل شوې».



# زلمي خليلزاد ته پرانيستې ليک

ليکنه: انتظار خادم

سوله د ټولو لومړيتوب دی. موږ ته سوله د ژوند په مانا او تا ته د مقدس ماموريت په مانا ده. اتلس کاله مو د دغه وطن په باروتو کې تېر کړل. کار مو وکړ، زيار مو وکړ، منډې مو وکړې، خدمت مو وکړ، د سولې لپاره زارۍ مو وکړې، کور په کور وګرځېدو، ولايت په ولايت مو د سوال لمنې وغوړولې او د دغه ملت او ځان لپاره مو د امن خيرات ټول کړ، خو نن حالات بدل دي، فورمول بدل دی او لاره بدله ده.

د تېرو اتلسو کلونو د جګړې شدت، تداوم او پېچلتوب د دغه وطن د ځينو بې حسه مشرانو د لاس کار دی. په دې کې هېڅ شک نشته چې کله کله هم امريکا په لوی لاس جګړه اوږده کړې او کله کله ترې اوږده شوې. هر څه چې وو، تېر شول او موږ عام ځوان نسل يې قرباني او زېږنده يو.

سږنی کال د سولې لپاره بهترين فرصت دی. ولسمشر ټرمپ د جنوبي اسيا لپاره پاليسي اعلان کړه. افغان جګړه پای ته رسول غواړي؛ په داسې حال کې چې سيمه ييزه اجماع وار د مخه جوړه ده. د ټرمپ د دغه لوی ماموريت لپاره تاسې ګومارل شوی ياست. ستاسې په پوهه، نړۍ ليد او هنر کې شک نشته. تاسې هم د دې خاورې زېږنده ياست که څه هم اوس د امريکا استازولي کوی. باور لرم چې د دغه ملت په درد دردمن ياست او غواړۍ د ژوند په وروستيو کلونو کې د افغان کشالې صفحه بدله کړی، خو په ياد مو وي چې ارمان تر عمله متفاوت دی. د دې لوی ماموريت لپاره حقيقي پلان، لويه حوصله، ماهرانه تکتيک او هر ډول ډيپلوماټيک هنر ته اړتيا ده.

موږ افغانان په حساسو زماني شرايطو کې قرار لرو. که څه هم د سولې لپاره زرين فرصت دی، اندکه غلطي هم کولی شي چې يا سوله متلاشي کړي او يا يې هم قېمت ډېر لوړ کړي.

زه پوهېږم چې په يوه وخت کې تاسې د طالبانو، افغان حکومت، افغان سياسيونو او د سيمې هېوادونو له مشرانو سره پر مذاکره بوخت ياست، خو کله کله مو وار خطا کېږي.

د سولې د راتګ لپاره مناسب فورمولونه کارول سوله يقيني کولی شي، کنه بيا ځل جګړه تودېدل به قيامت ته ورته وي، نه يوازې افغانان به د دغه اور خاشاک شي، نړۍ او امريکا به هم په رښتيا د دې جګړې تاوان ورکوي.

نن سبا سوله او د سولې خبرې هر ځای کېږي. پر نورو ناستو سربېره، د قطر وروستۍ ناسته خورا حياتي او ارزښتمنه وه. ناسته د اجنډا له مخې خورا مهمه وه، خو د مديريت او ګډونوالو په لحاظ غير منظمه او غير عادلانه وه. په داسې حال کې چې د سپټمبر تر مياشتې څو محدودې ورځې پاتې دي چې ټاکنې به کېږي، ايا اوس هم بايد موږ د سولې ناستې د ناستو لپاره کار وکړو که نه د پايلو لپاره؟

که هدف پايلې وي، نو لازمه نه ده چې بحث په کليوالي شکل پيل او بې له منظمو بحثونو او اغېزو پای ته ورسېږي. لازمه نه ده چې هغه څوک دې د سولې بحثونه پر مخ يوسي چې د جګړې له لارې تغذيه کېږي، پر سوله عقيده نه لري، د سولې انګېزه ورسره نه وي موجوده او د دغه هېواد لپاره هېڅ ډول ګټو ته ژمن نه وي.

د بېلګې په توګه، څرنګه کېدای شي چې پلرونو يې کلونه کلونه جنګ کړی وي او بچي يې اوس په قطر کې د سولې خبرې کوي؟

څرنګه کېدای شي چې د جنګ په پيسو مقام ته رسېدلي خلک اوس د سولې د راتګ لامل شي؟ څرنګه کېدای شي چې څو تکراري څېرې دې د ټول ملت استازولي وکړي او حقيقي سوله ييز اشخاص دې يوازې نندارچيان وي؟

که داسې حال وي، نو په رښتيا چې دا وطن د سياسي غلو، جاسوسانو او سرمايه دارانو دی. ځوان، اګاه، باخبره، ملتپال، سوله غوښتونکي او د ارزښتونو خلک بايد يوازې انتظار وکړي او بد خلک دې د دوی برخليک ټاکي.

رښتيا چې په اوسني وخت کې سرېتوب، وطن پالنه، علم، خدمت او رښتينولي جرم دی؛ ځکه خو په وطن مين خلک په اوږده خوب ويده شوي دي. نه غږ لري، نه رول لري او نه ارزښت.

د جرمني، قطر او نورو دخيلو اړخونو سربېره، بايد تاسې ښاغلی د مسئلې حساسيت درک کړئ. د امريکا د استازي په حيث نه، بلکې د يوه افغان په حيث، څو هغه خلک په پروسه کې شامل کړی چې سوله پېژني، سوله خوښوي او پر سوله پوهېږي؛ ځکه د جګړې قيمت عام ملت ورکوي، نه خانان او د خانانو بچي.

لازمه ده د راتلونکو ناستو لپاره مناسب بستر جوړ کړی، اجنډا معلومه وي، د خبرو خلک، اورېدونکي، ليدونکي او ملت په منظم ډول مديريت شي. بيا ځل يې تکراروم، که ستا ماموريت د حقيقي ثبات لپاره وي، نو اوسني بعضې ګډوډ خوځښتونه په هېڅ دليل د تلپاتې سولې د راتګ سبب نه شي ګرځېدلی، خو دا چې د سولې په نامه د کومې بلې عجيبې مرحلې د پيل تابيا نيسو. اخر تر کومه؟ په جګړه کې غلطي، په سياست کې غلطي، په ټولنيزو تعاملاتو کې غلطي او اوس په سوله کې هم غلطي. لويان به تر کومه غلطي کوي او افغان ملت به تر کومه د دې غلطيو سزاويني؟

په دې کې شک نشته چې افغان ملت بې کسه دی، خو تاريخ، قلم او کتاب په لاس کې لري. د امريکا په شمول به د خليلزاد کارنامې هم د تاريخ برخه شي. هيله ده چې دا کارنامې د سولې او ثبات وي، نه د ناکامو تجربو او عداوتونو.

# د جنايت او وحشت دوام؛
# ګډو ځواکونو يو ځل بيا په وردګو کې ملکي وګړي وژلي دي



ګډو ځواکونو يو ځل بيا په وردګو ولايت کې بشري جنايت تر سره کړی دی. سره له دې چې په وار وار خلکو د روان وضعيت په اړه خپل غږ پورته کړی دی او د دغه ډول بريدونو د درېدو غوښتنه يې کړې، خو ګډو ځواکونو يو ځل بيا په جغتو کې عام افغانان په نښه کړي دي. د راپورونو له مخې، د ميدان وردګ په جغتو ولسوالۍ کې د ګډو ځواکونو په شپنيو عملياتو کې ۱٦ ملکي وګړي وژل شوي دي. د قربانيانو کورنۍ وايي چې ګډو ځواکونو ورمه شپه ناوخته په جغتو کې د ملکي خلکو په کورونو عمليات کړي، چې يوازې د يوه کس څلور زامن وژل شوي. دوی وايي، وژل شوي کسان محصلين، زده کوونکي او ميلمانه وو، چې د غنمو درمند د راټولولو لپاره په يوه کور کې سره را ټول شوي وو.

عيني شاهدان وايي، په دې عملياتو کې د يوه کس څلور زامن وژل شوي، نور هغه محصلين، زده کوونکي او ميلمانه وو چې د غنمو د درمند راټولولو لپاره په يوه کور کې راټول شوي وو. د پېښې يو تن عيني شاهد چې له سترګو يې اوښکې روانې وې وايي: ((دا ډول وحشت ما هېڅ وخت نه و ليدلی. اولنی کس زه وم چې کوټې ته د ننه شوم. ډېر يې ملکي خلک وژلي دي. حکومت ستر وحشت کړی دی او بايد په دې اړه ځواب ووايي)).

د سيمې خلک وايي چې په دې پېښه کې وژل شوي کسان ملکيان، زده کوونکي او محصلين دي چې له وسله والو طالبانو سره يې تړاو نه درلود. دوی وايي، چاپه د ګډو ځواکونو له لوري د شپې په دريو بجو وهل شوي چې پکې د يوې کورنۍ څلور او د بلې کورنۍ درې غړي وژل شوي. د سليمان په نامه د سيمې اوسېدونکی وايي: ((وژل شوي ټول ملکيان دي. څو کسه زما د کورنۍ غړي دي. د دوی عمرونه د اتلسو او اولسو کلونو ترمنځ وو. دوی له طالبانو سره هېڅ راز اړيکه نه درلوده)).

له دې وړاندې هم ګډو ځواکونو د شپنيو عملياتو پر مهال په ميدان وردګ، پکتيکا، اروزګان او ډېرو نورو ولايتونو کې ملکي تلفات رامنځ ته کړي چې د خلکو له کلک غبرګون سره مخ شوي دي. د ملي شورا غړي له امنيتي ادارو غوښتنه کوي چې د عملياتو پر مهال د ملکي وګړو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي. د ولسي جرګې غړي عبدالله کليمزي ويلي چې حکومت بايد نوره دا لړۍ ختمه کړي. نومړي زياته کړې: ((دا يوه ورځ نه ده، دا دوې نه دي. هره ورځ ملکي خلک په ميدان وردګو ولايت کې وژل کېږي او شپني عمليات تلفات ورته اړوي. حکومت بايد نور د خلکو حوصله و نه ازمويي)).

ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونه په ميدان وردګ ولايت کې د تېرې شپې چاپې په تړاو وايي، چې دغه عمليات د دوی له لوري نه؛ بلکې د صفر يو قطعې له خوا تر سره شوي دي. بل پلو د ميدان وردګو ولايت مقام بيا په دې اړه وايي، چې وژل شوي ډېری طالبان او د هغوی د سرې قطعې غړي وو. وسله والو طالبانو هم د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي چې په دغو عملياتو کې ملکي وګړي وژل شوي دي او وسله والو طالبانو ته پکې تلفات نه دي اوښتي.

# اروپايي ټولنه: د امريکا او ايران ترمنځ د کړکېچ د راکمولو په تړاو د عراق له وړانديزه ملاتړ کوو




اروپايي ټولنې د عراق له هغه وړانديزه ملاتړ کړی، چې د امريکا او ايران ترمنځ د شخړو د کمولو لپاره يې د نړيوال کنفرانس د جوړېدو غوښتنه کړې ده.

د اروپايي ټولنې د بهرنيو چارو او امنيتي پاليسۍ مشرې فېدريکا موګرېني ويلي چې د امريکا او ايران ترمنځ د کړکېچ راکمولو ته بايد لومړيتوب ورکړل شي.

نومړې چې له ۲۰۱۴ ز کال راهيسې يې په لومړي ځل بغداد ته سفر کړی، د جولای په ۱۳مه له عراقي چارواکو سره د سيمې پر وروستيو کړکېچونو خبرې کړې دي.

هغې د عراق د هغه وړانديز ملاتړ کړی چې د تهران او واشنګټن ترمنځ د ترينګلتيا د راکمولو په موخه يې د سيمه ييز کنفرانس د جوړېدو په اړه کړی دی.

نومړې ويلي: «اروپايانو دا تجربه کړې چې حتی په ډېرو سختو وختونو کې سره کېناستل او خبرې کول تل تر هغه څه ښه دي، چې پر داسې نامعلومو لارو ولاړ شو چې د ټولو لپاره خطرناکې وي. له همدې کبله موږ په بشپړ ډول د سيمه ييز کنفرانس په اړه د عراق د وړانديز ملاتړ کوو، اروپايي ټولنه يې کاملاً تر شا ولاړه ده او چمتو ده چې د ګټور تماميدو لپاره د دغې طرحې ملاتړ وکړي».

دا په داسې حال کې ده چې له ايران سره له شوي اټومي تړونه د امريکا وتل، پر تهران د واشنګټن بنديزونه لګول، په فارس خليج کې د امريکايي پوځيانو زياتېدل او پر ايران دا تور پورې کېدل چې په سيمه کې د تېلو پر څو ټانکرونو په بريدونو کې لاس لري، هغه عمده ټکي دي چې د واشنګټن او تهران ترمنځ يې اړيکې ورځ تر بلې خرابې کړې او دواړه هېوادونه يې مخامخ جګړې ته سره نږدې کړي دي.

د دواړو هېوادونو ترمنځ روان وضعيت د عراق امنيت هم له ګواښ سره مخ کړی دی.

عراق چې د تهران او واشنګټن دواړو متحد دی، تر فشار لاندې دی چې پرې نږدې د ايران او امريکا ترمنځ د ستونزو د ډېرېدو په صورت کې يې خاوره د جګړې پر ډګر بدله شي.

دا څرګندونې داسې مهال دي چې امريکا دا مهال په عراق کې پوځي اډې او ۵۰۰۰ پوځيان لري او ايران هم د عراق د شيعه ملېشو ملاتړ کوي چې په هغه ځای کې يې د اسلامي دولت ډلې پر وړاندې مبارزه کې مهم رول درلود او تر ډېره په عراق کې د امريکا د حضور مخالف دي.

د عراق د بهرنيو چارو وزير محمدالحکيم په بغداد کې له موګرېني سره په يوه ګډه خبري غونډه کې ويلي چې نوې جګړه به د تروريزم پر وړاندې مبارزه اغېزمنه کړي.


## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### لومړۍ څپرکی
### د یوویشتمې پېړۍ پښتانه




پښتنو خپلې ټولنې ته د اوسنیو بدلونونو په راوستو کې پر لومړني لاس رول نه دی لرلی. د پښتنو ځمکه د ارو اسیایي (Eurasian) لویو وچو د مرکز لپاره له پېړیو هم دفاعي سیمې دي او هم د کلتورونو او تمدنونو د څلور لارې حیثیت لري. وروستی بدلون هغه مهال پیل شو چې روسانو د افغانستان پر خاوره د ۱۹۷۹ز کال په ډسمبر کې برید وکړ او سره جګړه په شدت سره پیل شوه. په افغانستان کې د کمونېستي کودتا او د روسانو له یرغل سره سم جهاد پیل شو. پاکستاني مشرانو له دې وېرې چې په افغانستان کې پیل شوې نېشنلېستي هڅې به پاکستان ته وغځېږي، د افغانستان د جهاد ملاتړ وکړ. اسلاماباد دا وېره هم لرله چې په پاکستان کې مېشتو پښتنو ترمنځ به قومپال نېشنلېزم زور واخلي.

د پښتنو په سیمو کې د کرښې دواړو غاړو ته، درېیو لسیزو جګړو نوې ډلې، ائتلافونه او د مشرۍ جوړښتونه زېږولي. ټولیز تاوتریخوالي د مقابلوي اېډیولوژیو او سیاسي سېستمونو په توګه نوی مشروعیت اخیستی چې پر سیمه او د عامو خلکو پر زړونو او دماغونو د کنټرول هڅې کوي. د لومړي ځل لپاره د سني علماوو سخت دریځې شبکې، د اسلامي جګړه مارو قومندانانو د دودیزو سېکولر قومي او سیاسي مشرانو په پرتله ځواکمنې شوې. له وسله والو ډلو سره له کلونو پرلپسې ملاتړ او په میلیاردونو ډالرو مرستې د راډیکال سیاسي اسلام را څرګندېدو ته لاره اواره کړه. په افغانستان او پاکستان کې د طالبانو موجودیت د دې پروسې یوه څرګنده نښه بللی شو. د طالبانو له واک ته رسېدو سره سم القاعدې ته لاره اواره شوه چې مشري یې د عربو په لاس کې ده، هغوی د پښتنو په خاوره پټنځایونه ونیول او په خپلو کې منظم او منسجم شول. د پښتنو له سیمې پرته هغوی د پټېدو او مېشتېدو لپاره بل ځای نه لاره.

په تېرو څه باندې درېیو لسیزو جګړو کې له یو میلیون ډېر پښتانه وژل شوي، کورونه او کلي یې په جګړه کې وران شوي دي. اوس په نړۍ کې پښتانه تر ټولو لوی بې ځایه شوی او کډوال شوی نفوس لري. «جګړې» د «پښتنو» ټول ټولنیز او سیاسي بنسټونه «ویجاړ» کړي. یوازې په ۱۹۸۰ز لسیزه کې پر پښتون مېشتو سیمو کې پر جګړو له (۵۰ څخه تر ۱۰۰) میلیارد ډالرو پانګونه شوې. په دې سیمو کې پر بشري اقتصادي او پرمختیایي چارو خورا کمه پانګونه شوې. شوروي اتحاد په ۱۹۸۰ز لسیزه او ناټو د یوویشتمې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې د پښتنو پر ځمکه له ستونزې سره «نظامي» چلند وکړ، حال دا چې دلته سیاسي او اقتصادي غبرګونونه څو اړخیز «حل» ته اړتیا لرله.

دا چې «پښتانه» په «جګړه» کې «ښکېل» دي، ځکه نو په «نړۍ» کې تر ټولو «پس پاتې» خلک دي. د بشري پرمختیا کلیدي شاخصونو، لکه؛ د ژوند امید، سواد، کارموندنه، غذایي امنیت، د قانون پلي کېدل او نورو له مخې پښتانه په نړیواله کچه تر ټولو په «ټیټه» درجه کې دي. د ۱۹۹۰ز لسیزې جګړو په ترڅ کې افغان ټولنه په جرمي اقتصاد متکي شوې، لکه د نشه یي توکو کر، قاچاق او د وړو وسلو تیټول یې بېلګې دي.

افغان کروندګر پوهېږي چې دوی د تریاکو د کروندې له ګټې یوه ډېره وړه برخه اخلي، خو بیا هم له اړې ورځې پر خپلو ځمکو تریاک کري. جرمي اقتصاد لویې ډلې زېږولې دي چې د وخت په تېرېدو سره به دوی د مشروع اقتصادي کارونو ادعا کوي. د جرمي اقتصاد پر مټ لویو شوو ډلو د کابل او پېښور په څېر ښارونو کې لویې او دنګې ودانۍ جوړې کړې دي. نا امني، نړیوال مارکېټ او د کرنې معاصرو تخنیکونو ته نه لاسرسی هغه اساسي عوامل دي چې دودیزه کرنه یې له منځه وړې ده. واردات او ټرانسپورټ د پښتنو د اقتصاد د ملا تیر جوړوي.

د هغو میلیونونو پښتنو له لارې چې د تېلو په بډایه خلیجي هېوادونو کې د ټیټ پاړکي په توګه کار کوي پر ټولو پښتنو د نړیوالتوب اغېز ښندلی دی. هغه پیسې چې یاد کاریګر یې خپلو سیمو ته د خپلو کورنیو لپاره لېږي د دوی کوم درد نه پرې دوا کېږي، هغه پیسې چې له دوبۍ او کوېټ راځي، لږ اندازه یې د اقتصادي پیاوړتیا پر کارونو لګېږي چې ټولو خلکو ته یې ګټه ورسېږي، د بېلګې په توګه د ښوونځیو او کلینیکونو ودانولو چارې یادولای شو.

پر دې سربېره چې پښتانه د تاوتریخوالي په یوه لوی کړکېچ کې راګیر دي، ځینې پښتانه مشران او جګړه ماران جګړه کوي، لا هم د ټاکنو او جرګې په څېر د ثبات یو شمېر فرصتونه شته. له ۲۰۰۱ز کال را وروسته په پاکستان او افغانستان کې د شوو جرګو او ټاکنو له مخې ښکاري چې ډېری پښتانه پر خپله بدبختۍ پوهېږي او غواړي چې خلک له دې بد حالت ووځي او سوله ییز راتلونکی ولري. دې خلکو خپل کلي، پراخې حاصل خېزه ځمکې او ښارونه لیدلي چې یو ځل په ۱۹۸۰ز لسیزه کې روسانو هر څه وران کړل، وروسته امریکایي بمونو او د القاعدې ځانمرګو بریدګرو هر څخه له خاورو سره خاورې کړل.

افغان-شوروي جګړه چې د شلمې پېړۍ تر ټولو وروستۍ لویه جګړه وه، د مسکو د ځواک د ماتې په مانا وه چې په ۱۹۹۱ز کال یې شوروي اتحاد هم ټوټه ټوټه کړ. کله چې امریکایانو د ترهګرۍ پر ضد مبارزې جګړه پیل کړه، بیا یې همد دې جګړې تمرکز پر پښتني سیمو وکړ. له بده مرغه د یوویشتمې پېړۍ جګړې نقشه هم د پښتون پر کور پلې کېږي.

**دوام لري...**

# ټایلنډ

حشمت الله نوري



ټایلنډ د آسیا په جنوب ختیځ کې د هند او چین په ټاپووزمه کې د اندمان د سیند او د ټایلنډ د خلیج تر منځ د شمالي عرض البلدونو د ۵ او ۲۱ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۱۰۰ او ۹۸ درجو ترمنځ موقعیت لري، چې پراخوالی یې ۱۹۸۴۵۷ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۴۶م لوی هېواد دی.

د ټایلنډ شمال ته برما او لاوس، جنوب ته یې د ټایلنډ خلیج او مالیزیا، ختیځ ته لاوس او کمبودیا او لوېدیځ ته یې د اندامان سیند او برما موقعیت لري.

ټایلنډ د جنوب ختیځې آسیا تر ټولو اوږد هېواد دی. د ټایلنډ په جنوب لوېدیځ او ختیځ کې ډېر داسې ټاپوګان شته، چې په دغه هېواد پورې اړه لري لکه، کوچانګ، کوکوت، کوسامویي او ځینې نور. ټایلنډ اساساً نیم غرنی هېواد دی چې غرونه یې زیاتره په شمالي او لوېدیځو سیمو کې پراته دي.

د دغه هېواد پلازمېنه د بانک کوک ښار دی او ټولټال څه کم ۶۹ میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۱۳۲ کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ۴۵ سلنه وګړي په ښارونو او ۵۵ سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.

د اداري وېش له مخې ټایلنډ پر ۷۶ ولایتونو وېشل شوی دی. بانتااوتن، یودن تاني، موکداهان، بانګ، لامونګ، لامفون، تاک او خون کین د دغه هېواد مهم ښارونه دي.

د ټایلنډ د حکومت ډول مشروطه پاچایي دی. د دغه هېواد نوی اساسي قانون د ۲۰۰۹ ز کال د اګسټ په ۲۴مه نافذ شوی دی. په ټایلنډ کې پاچا د ملک یوازینی واکمن بلل کېږي، لومړی وزیر د ولسي جرګې د غړو له مینځ څخه ټاکل کېږي، معمولاً هغه څوک چې ګوند یا ائتلاف یې اکثریت رایې ګټي، د لومړي وزارت لپاره په پام کې نیول کېږي.

د ټایلنډ ملي شورا دوې جرګې لري، لومړۍ سنا چې ۱۵۰ غړي لري او د کار موده یې شپږ کاله ده او ولسي جرګه چې ۵۰۰ غړي لري چې د څلورو کلونو لپاره کار کوي. د ټایلنډ د ملي شورا د دواړو جرګو غړي د خلکو له خوا ټاکل کېږي، په دغه هېوا کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول په کې عمومي دي.

د دغه هېوا حقوقي نظام پر مدني قانون ولاړ دی، د ټایلنډ د قضایه قوې په سر کې ستره محکمه ځای لري چې قاضیان یې د پاچا له خوا ټاکل کېږي. د تای د ملت ګوند، ولسواک ګوند، د ټولنیزعمل ګوند او لبرال ولسواک ګوند په دغه هېواد کې مهم او نفوذ لرونکي ګوندونه دي.

په ۱۹۹۸ ز کال کې د ټایلنډ اقتصاد د هغه بحران له امله چې د دغه هېواد ډېر شرکتونه او په ځانګړې توګه بانکونه او تمویلي موسسې ورسره مخ وې، جدي ستونزې او کساد درلود. د ۱۹۹۸ ز کال په پیل کې ټایلنډ خپله مالي تګلاره لیبراله کړه، څو ټانګونه، شرکتونه او فابریکې په ډالر پور واخلي. له هغه ځایه چې دوی په پولي تبادلاتو کې څه تاوان یا خطر نه لیده، ځکه یې په دې برخه کې هېڅ خنډونه رامنځ ته نه کړل. د دې تر څنګ یې د صادراتو پراختیا چې پخوا د ټایلنډ په اقتصادي پرمختګ کې یو مهم عامل ګڼل کېده، په ۱۹۹۶ ز کال کې سقوط وکړ او داسې ویل کېدل چې د ټایلنډ بانکونه د ډالري معاملاتو وس نه لري. د ټایلنډ بانک هغه وخت داسې چلند و کړ چې نږدې وه د بانک د اسعارو زیرمه یې تشه شي. لږ وخت وروسته یې خپله تګلاره بدله کړه او د اسعارو د تبادلې نرخ یې ازاد پرېښود. دې پرېکړې د ټایلنډي شرکتونو د پورونو بار چې له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان وو، نورهم دروند کړ. د ۱۹۹۷ ز کال په اګسټ کې د ټایلنډ حکومت د صدر اعظم چاوالت په مشرۍ له نړیوال بانک سره د ۱۴ بلیون ډالرو پور تړون لاسلیک کړ، چې خپلې اسعاري زیرمې زیاتې کړي او د پیسو په مارکېټ کې خپله وړتیا پیاوړې کړي.

اوس اوس ټایلنډ له خپلو ګاونډیو او ځینو نورو هېوادونو سره داسې تړونونه لاسلیک کړي، چې صادرات او ناخالص کورني تولیدات یې ورسره زیات شوي دي. خو سمندري توپانونه هغه ستونزه ده چې د ټایلنډ اقتصاد ته وخت نا وخت زیانونه رسوي.

توریزم، ټوکران او ګنډل شوې جامې، د خوراکي موادو پروسس، غوړي، تنباکو، سیمنټ، د کاني موادو ایستل، ساختماني مواد، د سرو زرو شیان، د برېښنا سامان، کمپیوټر او د هغه پرزې، نقلیه وسایط، دارو درمل، لرګین شیان، پلاستیکي محصولات او کوچني ماشینونه د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.

د دغه هېواد ۳۰ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، دوه سلنه یې څړځایونو، ۲۶ سلنه یې ځنګلونو او پاتې نوره یې غرونو، بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د ټایلنډ ۴۰ سلنه خلک د کرنې په سکتور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۳ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکتور څخه لاس ته راوړي.

وریجې، ربړ، جوار، ګنې، قهوه، لوبیا، پنبه، وربښم، تېل لرونکې دانې، جوت، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات او هګۍ د ټایلنډ مهم کرنیز محصولات بلل کېږي. امریکا، جاپان، سنګاپور، هانګ کانګ، مالیزیا، استرالیا او چین د دغه هېواد غټ تجارتي شریکان دي. ټایلنډ ۱۰۶ هوایي ډګرونه لري چې ۶۸ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۶۶ او د انټرنېټ کود یې TH دی، چې تولټال یې ۲۰ میلیونه کسان ورته لاسرسی لري.

په ټایلنډ کې شپږ ملي ټلوېزیوني چینلونه فعال دي، چې دوه یې په پوځ پورې اړه لري. څلور نور یا د دولت دي او یا د دولت تر کنټرول لاندې کار کوي، چې هره ورځ ه دوه ځلې دولتي پروګرامونه خپروي. د دې ترڅنګ په دغه هېواد کې له ۵۰۰ زیاتې دولتي او خصوصي راډیوګانې فعالیت کوي او هر کال څه باندې نهه زره کتابونه په بېلابېلو برخو کې له چاپه راوځي.

ټایلنډ د آسیا او نړۍ له نسبتاً پرمختللو هېوادونو څخه شمېرل کېږي او هر کال څه کم دوه میلیونه سیلانیان دغه هېواد ته سفر کوي. په ټایلنډ کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول وګړي پر لیک او لوست پوهیږي. زده کړه په ټایلنډ کې له ۷-۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري ده. په دغه هېواد کې دولت او خصوصي سکټور دواړه ځوانانو ته د زده کړې اسانتیاوې وړاندې کوي.

د لرغون پېژندنې استادان وایي چې د ټایلنډ په اوسنۍ خاوره کې د انساني ژوند پیلامه شل زره کاله پخوا ته رسېږي. په شپږمه پېړۍ کې د چین ځینې قبایلي خلک چې د تای په نامه یادېدل، د ټایلنډ اوسنۍ خاورې ته ولېږدېدل او د دې ځای بومیان یې لاندې کړل. دا خلک تر ۱۳مې پېړۍ پورې له یوې خوا د مالیزیا تر ټاپووزمې پورې او له بلې خوا د کمبودیا تر پولو پورې په مخ لاړل. په ۱۳۵۰ ز کال کې فراراماتیبودا د سیام پاچاهي جوړه کړه. له دې وروسته په څلورمه پېړۍ کې د ټایلنډ یا پخواني سیام دولت ورځ په ورځ پیاوړی کېده، په لوېدیځ کې یې کمبودیا او په شمال کې ډېر نور ځایونه ونیول او هم یې له پرتګال، هالنډ، انګلستان او چین سره تجارتي روابط پیاوړي کړل. په ۱۷۶۴ ز کال کې برمایانو پر سیام برید وکړ او د دغه هېواد پایتخت د ایوتیا ښار یې ونړاوه، خو زر د سیام خلکو د جنرال فایاتاک تر مشرۍ لاندې برمایانو ته ماتې ورکړه. په ۱۸۲۶ ز کال کې هغه تړون چې د انګلستان او سیام د مقاماتو تر منځ لاسلیک شو، په سیام کې یې انګلیسي نفوذ ته لاره پرانیسته. په ۱۸۹۳ ز کال کې فرانسویان د انام او کوچن چین تر نیولو وروسته دې لوري ته راغلل او بنکاک ته یې د بېړیو په استولو د سیام دولت دې ته اړ کړ، چې د بنکاک بندر دوی ته پرېږدي.

په ۱۹۸۱ ز کال کې په بنکاک کې کودتا وشوه او جنرال سنت چیتیاتیما د ولسواکۍ ننګه وکړه. د ۱۹۸۳ ز کال د اپرېل په شلمه، جنرال پرم د دویم ځل لپاره د هېواد د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو. جنرال پرم د ۱۹۸۶ ز کال د مې په ټاکنو کې بیا لومړی وزیر شو. د ۱۹۸۸ ز کال په عمومي ټاکنو کې د ټایلنډ پاچا جنرال چاتیچای د یوه ائتلافي حکومت په جوړولو وګومارل شو. چاتیچای په ټایلنډ کې بنسټیز کارونه پیل کړل او د هېواد په کورنیو او بهرنیو تګلارو کې یې ژور بدلونونه راوستل.

له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۰ ز کلونو پورې په ټایلنډ کې څو ځلې نورې عمومي ټاکنې شوې دي، د ټایلنډ حکومت د دغه هېواد د جنوبي سیمو د مسلمانانو له جنګیالیو او د بودایي مذهب له سرو جامو مذهبي مشرانو سره ستونزې لري. په ۲۰۱۰ ز کال کې دغه د سرو جامو بودایان دوه ځلې په بنکاک کې غونډ شول او د حکومت له پولیسو سره یې وسله والې شخړې وکړې. دا شخړې په ۲۰۱۱ ز کال کې بیا تکرار شوې چې مرګ ژوبله یې هم درلوده. د همدې کال په نومبر کې د بنکاک نیم ښار تر اوبو لاندې شو، ځکه په شاوخوا سیمو کې ډېر ورښتونه شوي وو.

داسې ښکاري چې د افغانستان او ټایلنډ تر منځ هېڅکله سفارتي سیاسي اړیکې نه دي رامنځ ته شوې، خو دواړو هېوادونو په ځینو مواردو کې هوکړې کړې دي.

د کابل او بنکاک ښارونو تر منځ د وخت توپیر ۲:۳۰ ساعته او همدا راز د هوا له لارې واټن ۸۶۳۸ کیلومتره دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۱۰ |
| € | ۹۰,۳۰ |
| Rp. | ۵۰٤ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۹۹,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# موخې ته د رسېدو په برخه کې انعطاف منونکي اوسئ!

ژباړه: حمیدالله حمیدي

کله چې یو څوک هڅوی، کولی شي په ژوند کې بریالي شي، خو له کمې مودې وروسته له بحراني حالتونو سره مخ کېږي. که لومړی ځل او یا دویم ځل ماتې خوري، له ځان سره دوې ټاکنې لري، یا به ماتې مني او یا به مخ ته ځي.

ځینې کسان انعطاف منونکي او د ډېر استقامت درلودونکي وي. هغوی خپلو هڅو ته دوام ورکوي، څو بریا ته ورسېږي، خو ځینې کسان بیا له لومړۍ ماتې وروسته له هر څه په شا کېږي. د دې لپاره چې دغه ډول خلک وهڅوی، څو مخ پر وړاندې ولاړ شي، باید شنه څراغونه ورکړئ او د خپل باور کچه مو ور وښایاست.

په دې برخه کې یوه ښه لار دا ده چې د خپل ځان په اړه ورته ووایاست. کومې ستونزې مو تېرې کړې دي، له څه څه سره مخ شوي یاست او څه ډول توانېدلي یاست چې د یوې ستونزې لپاره حللاره پیدا کړې او ماتې ونه منی. هغوی ته دا روښانه کړئ چې بریا یو سفر او بهیر دی، نه موخه. کله چې هغوی پوه شي چې تاسو هم ماتې خوړلې، خو له ماتې وروسته بیا هم بریا ته رسېدلي یاست، بیداربږي. دغه ډول مقابل کس پر ځان باور پیدا کوي او له ځان سره وایي چې هېڅکله هم باید ډار ته اجازه ورنه کړي، چې د لارې پر سر یې خنډ شي.

**د بریا خوند په ګډه وڅکئ!**

دا مه وایاست چې ماتې خوړل د پر شا حرکت یوه برخه ده. د دې لپاره چې خلک پر ځان باور پیدا کړي، باید پوه شي چې په خپل وجود کې د بریا وړتیا لري. پاور د خپل ځان په اړه وایي: «زه چې کله ماشوم وم، خپل ورور (لاري) چې له مانه دوه نیم کاله مشر و، د ځان لپاره مې ایډیال وټاکه.



له مور او پلار وروسته لاري زما په ژوند کې تر ټولو اغېز ناک کس و. لاري تل یو لوی رهبر او ښه ورزشکار و، موږ به چې کله په کلي کې د فوټبال او یا باسکټبال لوبه کوله، لاري به زموږ د ټیم کفتان و. کله به چې د ټیم لپاره لوبغاړي ټاکل کېدل، زه وروستی کس وم چې انتخاب به شوم، ځکه زه تر ټولو کوچنی وم، هډور هم نه وم. خو کله چې لږ لوی شوم، لاري به زه لومړی ټاکلم او دې کار به ماته انرژي راکوله. په دې خاطر نه چې ورور مې (لاري) ماته پام کوي، بلکې له دې کبله به خوشاله وم چې د ګټونکو په ډله کې به وم. لاري هېڅکله هم بایلل نه خوښول، خپله ټوله هڅه یې کوله څو ګټونکی شي او ډېر کله به ګټونکی هم و».

ګټل په انسان کې انګېزه را پیدا کوي. ډېوېډ امبروس، رومان لیکونکی په دې اړه وایي: «که مو د ګټلو اراده درلوده، نو د بریا نیمه لار مو وهلې ده. که نه، نو د ناکامۍ نیمه لار درته پاتې ده». کله چې څوک هڅول کېږي، په بدن کې یې د بریا لپاره انرژي څپې وهي.

**کله چې څوک د بریا احساس کوي:**

د بریا لپاره له ځانه تېرېږي
د بریا پر لارو چارو پسې ګرځي
انرژي پیدا کوي
د لوبې پروګرام تعقیبوي
د ټیم له ټولو غړو سره مرسته کوي
کله چې څوک د ماتې احساس کوي:
له ځانه تېرېدل یې خپل وروستي حد ته را رسېږي
بهانې لټوي
ستړی کېږي
د لوبې پروګرام له پامه غورځوي
نورو ته هم د ماتې احساس ورکوي

د دې لپاره چې نورو ته د بریا احساس ورکړی، هغوی ته داسې فضا برابره کړئ، چې لومړۍ کوچنۍ بریاوې تجربه کړي. په لومړي سر کې ورته داسې کارونه او مسوولیتونه وسپارئ، چې پوهېږی تر سره کولی یې شي. له هغوی سره داسې مرسته وکړئ چې د بریا لپاره ورته اړتیا لري. لکه څه ډول چې به یوناني خطیب ویل: «کوچنۍ موکې او چانسونه د لویو کارونو د کولو لپاره لار هواروي». کله چې په تدریج سره دغه کسان پر ځان باور پیدا کړي، کولی شي په راتلونکې کې له لویو ستونزو سره مبارزه وکړي.

**بریا په راتلونکې کې تصور کړئ!**

پوهانو د دې لپاره چې د موږکانو انګېزه معلومه کړي، پر هغوی باندې یې یوه جالبه څېړنه کړې ده. دوی یو موږک له اوبو څخه په یو ډک لوښي کې خوشي کړ، په داسې حال کې چې کوټه کاملاً تیاره وه. موږک په لامبو وهلو شروع وکړه. موږک د اوبو په منځ کې په داسې حال کې چې کوټه کاملاً تیاره وه، لږ تر لږه درې دقیقې لامبو ووهله. په دویمه ازموینه کې پوهانو په همدې اندازه اوبو کې بل موږک خوشی کړ، خو دا ځل په دې توپیر چې یوه څه اندازه رڼایي یې کوټې ته ور پرېښوده. دوی وایي چې موږک لږ تر لږه ۳٦ ساعته د ژوندي پاتې کېدو لپاره هڅه وکړه. که دغه مطلب په موږکانو کې صدق کوي، نو وګورئ چې که انسان هم په خپله راتلونکې کې د بریا لپاره لږ نښه نښانه ووینې، څومره هڅه به وکړي. وایي، انسان لږ تر لږه څلوېښت ورځې پرته له خوړو، څلور ورځې پرته له اوبو او څلور دقیقې پرته له اکسیجن څخه ژوندی پاتې کېدای شي؛ خو که هیله یې پرې شي، څلور ثانیې هم ژوندی نه شي پاتې کېدای. د المان پخوانی لومړی وزیر وایي: «سمه ده چې موږ ټول تر یوه اسمان لاندې ژوند کوو، خو ګډه روښنایي نه لرو». د یوه رهبر په توګه له نورو سره مرسته وکړئ، څو خپل اوسني حالت ته وګوری، په هیلو کې ډوب شي او ځان د راتلونکو بریاوو په منځ کې احساس کړی. د ښې راتلونکې د لرلو لپاره باید خپل لیدلوری ته هم بدلون ورکړئ. دنیس ویتلي وایي: «هېڅوک د بریا لپاره په برابرو شرایطو کې نه پیدا کېږي. هر څه په لیدلوري پورې اړه لري. لیدلوری د بریا معیار دی». کله چې د یو چا لیدلوری بدلون کوي، له شک او تردید څخه وځي، پر ځان باور ته رسېږي او ژوند یې ښه کېږي.

# په پکتیا کې د یوه خبریال وژل کېدو د نورو خبریالانو اندېښنې را پارولې دي



په پکتیا کې د یوې سیمه ییزې راډیو د خبریال وژل کېدو د نورو افغان خبریالانو اندېښنې هم راپارولې دي.

افغان خبریالان وایي، وسله والې ډلې د ځینو حقایقو د پټولو لپاره افغان خبریالان په نښه کوي. د دوی په خبره، دا مهال په افغانستان کې د خبریالانو د وژلو او ځورولو کچه لوړه شوې او ژوند ته یې بېلابېل ګواښونه متوجې دي.

دوو تنو افغان خبریالانو محمدیوسف او ممتاز بهیر ازادي راډیو ته ویلي: «تر ټولو مهم لامل یې دا دی چې وسله والې ډلې یا هغه کړی چې په جګړه کې ښکېل دي، هغوی نه غواړي چې حقایق روښانه شي او د همدې لپاره د دې هڅه کوي چې د خبریالانو په وژلو او ګواښولو سره د حقایقو مخه ونیسي».

د خبریالانو د نه خوندیتوب مسئله د ځینو افغان خبریالانو له خوا داسې مهال مطرح کېږي، چې د جمعې د ورځې په ماښام د پکتیا په ګردېز ښار کې د یوې سیمه ییزې راډیو خبریال نادرشاه صاحبزاده د ناپېژاندو وسله والو له خوا تښتول شوی او د معلوماتو له مخې، په چاقوګانو وژل شوی چې بیا یې مړی د شنبې د ورځې په سهار وموندل شو.

د یادونې ده چې د نوموړي په ګډون، د روان میلادي کال له پیله تر دې مهاله اووه افغان خبریالان د ناځرګندو کسانو له خوا وژل شوي دي.

په ورته وخت کې د افغانستان د ژورنالېستانو ملي ټولنه وایي، په پکتیا کې د افغان خبریال د وژل کېدو په تړاو څېړنې روانې دي او وروسته به څرګنده شي چې دا د وسله والو طالبانو له ورستي ګواښ سره اړیکه لري او که نه.

د دغې ټولنې رییس فهیم دشتي ازادي راډیو ته ویلي: «د پکتیا پېښه ممکن د طالبانو له اعلامیې سره اړیکه ولري یا نه، ځکه تر اوسه د څېړلو پروسه ده او وروسته به روښانه شي، د طالبانو د اعلامیې په تړاو مونږ له اړوندو ادارو سره جلسې لرو، هیله مند یو چې د دغو ګواښونو مخنیوی وکړو».

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د دولتي ځواکونو له لوري هم د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی زیات شوی دی.

# د ټاکنو خپلواک کمېسیون: د ولسمشریزو ټاکنو بودجه تر اوسه په رسمي توګه نه ده راکړل شوې



په داسې حال کې چې ولسمشریزو ټاکنو ته نږدې دوې میاشتې پاتې دي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته د دغو ټاکنو بودجه تر اوسه په رسمي توګه نه ده ورکړل شوې.

له دې سره سره، دغه کمېسیون د تلې میاشتې ټاکنو ته د تیاریانو خبرې کوي او وایي چې تر راتلونکو دوو ورځو پورې به د رای ورکوونکو نوملړ اعلان شي.

د دغه کمېسیون د ویندوی دفتر سرپرست ذبیح الله سادات ویلي: «نړیوالې ټولنې هم ژمنه کړې چې ځانګړې شوې بودجه به کمېسیون ته ورکړي، خو تر اوسه په رسمي توګه موږ ته نه ده رسېدلې، خو په ورکړه کې یې ستونزه نشته، یوازې پر تخنیکي بهیر یې کار کېږي، ډېر ژر به زموږ په اختیار کې راکړل شي».

بلخوا د سولې روان بهیر او د ټاکنو تر سره کېدو د ولسمشریزو ټاکنو ځینې نوماندان هم اندېښمن کړي دي.

د حزب اسلامي د رسنیو د دفتر غړي فضل غني ویلي، تر هغې چې د دغه بهیر د شفافیت په اړه ډاډمن نه شي، له دغه بهیر سره مرسته کول مخکې له وخته دي.

هغه زیاته کړې: «کاندیدان او ګوندونه د انتخاباتو د شفافیت په اړه اندېښمن دي او تر هغې چې دغه اندېښنې لرې نه شي او تضمین ورنه کړل شي، مخکې له وخته به وي چې له دغه بهیر سره همکاري وشي؛ ځکه دغه پروسه شفافه نه ده، د کمېسیون اقدامات یو اړخیز دي، د کمېسیون د استقلالیت په صورت کې هرې همکارۍ ته تیار یو او څارنه به یې وکړو».

دغه راز ولسمشریزو ټاکنو ته خپلواک نوماند شهاب حکیمي د کاندیدانو د شورا په استازیتوب ویلي، ناامني، د انتخاباتو بهیر ته د حکومت او نړیوالې ټولنې له خوا د بودجې نه ورکول او ولسمشریزو ټاکنو ته د کمېسیون پر ارادې د شکونو شتون، نوماندان اندېښمن کړي دي.

هغه زیاته کړې: «تر اوسه هېڅ خپل څارونکی نه دی ورپېژندلی او نه څوک اراده لري او نه جرئت کوي چې په دغسې فضا کې په صندقونو کې رایې واچوي، د امنیت ترځنګ په دغه بهیر کې پر درغلیو هم اندېښمن یو، له دې امله څوک حاضر نه دي چې خپل څارونکی ور معرفي کړي».

بلخوا پر ټاکنو څارونکې بنسټونه هم د ټاکنو په تړاو د نړیوالې ټولنې ژمنو ته د شک په سترګه ګوري او وایي چې ولسمشریزو انتخاباتو ته د نړیوالې ټولنې نه لېوالتیا د ټاکنو په برخه کې د ګډوډیو لامل شوې ده.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily






المبارک

توریستي شرکت

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA

0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55

کابل د میوند جادې ورو‌ستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ ۲٤مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۱۵مه | دریم کال | ٤۰٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳٥ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۰ | لمر ختل ۰٤:٥۱ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۰۸ | ماخوستن ۰۸:٥۰

## نړۍ



# اروپايي ټولنه: د امریکا او ایران ترمنځ د کړکیچ د راکمولو په تړاو د عراق له وړاندیزه ملاتړ کوو

۳

## ټرمپ: د برېټانیا د سفیر وروستی ښکاره‌ونې احمقانه دي

د واشنګټن لپاره د برېټانیا پخواني سفیر ویلي چې دی پر دې باور دی چې د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ۲۰۱٥ ز کال له اټومي تړون څخه ځکه ووت، چې دغه تړون د پخواني ولسمشر بارک اوباما په وخت کې ترتیب شوی و.

د خپرو شویو اسنادو له مخې، د برېټانیا پخواني سفیر کیم داروچ د ۲۰۱۸ ز کال په مي میاشت کې په یوه ډيپلوماټیک پیغام کې چې تېره ورځ یې جزیات خپاره شول، ویلي چې د ټرمپ اداري دا کار د ایډیالوژیکو او شخصي دلایلو له مخې کړی، نه د یوه ډيپلوماټیک اقدام په توګه او دا یې د اوباما تړون بللی و.

دا د خپرو شویو اسنادو دویمه برخه ده چې د برېټانیا مېل ورځپاڼې تېره ورځ خپره کړې ده.



په همدې حال کې د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ، داروچ ته د احمق او بې سوچه سړي خطاب کړی او ویلي یې دي چې د برېټانیا له دغه استازي سره نور اړیکې نه ساتي.

د امریکا او برېټانیا ترمنځ دغه نانډرۍ داسې مهال دي، چې متحده ایالتونه د تېر کال په مي میاشت کې له ایران سره له شوي اټومي تړونه ووتل.

ولسمشر ټرمپ ویلي چې دغه تړون نیمګړی دی او ایران ورڅخه زیاته ګټه تر لاسه کوله.

## ملګري ملتونه: هند به تر ۲۰۲۷ ز کال پورې د نړۍ تر ټولو ډېر نفوس لرونکی هېواد شي



د ملګرو ملتونو سازمان د وړاندوینې له مخې هند به تر ۲۰۲۷ کال پورې د نړۍ تر ټولو ډېر نفوس لرونکی هېواد شي.

دا په داسې حال کې ده چې د نړیوال بانک د ۲۰۱۷ ز کال د شمېرو له مخې، چین د نږدې ۱.۳۸٦ میلیاردو وګړو په درلودو سره د نړۍ تر ټولو زیات نفوس لري او هند د ۱.۳۳۹ میلیارد نفوس په لرلو په دویم ځای کې دی.

د ملګرو ملتونو د نفوس د صندوق استازې ارجنټینا ماټاول پیچین خبرداری ورکړی چې که روزنې او حفظ الصحې ته د هند د خلکو د لاسرسي لپاره کار ونه شي، دغه هېواد به له جدي ستونزو سره مخ شي.

د ملګرو ملتونو د نفوس د صندوق د رپوټ پر اساس، د هند عادي وګړي د اړتیا له وړ سرچینو څخه د محرومېدو له ګواښ سره مخ دي، په ځانګړې توګه د زده کړو او حفظ الصحې په برخه کې او که په دې اړه اقدامات ونه شي، بشري ناورین به رامنځته شي.

ملګرو ملتونو دغه راز خبرداری ورکړی چې که د هند دولت د خپل نفوس د کنټرول لپاره د دوی وړاندیزونو ته پام ونه کړي، ژر به ونه توانېږي چې خپلو خلکو ته د ژوند د حد اقل کیفیت زمینه برابره کړي.

ملګرو ملتونو دغه راز ټینګار کړی چې د هند حکومت باید په راتلونکې یوه نیمه لسیزه کې د اقتصاد د ښه کېدو او ودې په برخه کې جدي ګامونه پورته کړي چې د نفوس له اړوند ناورین څخه وژغورل شي.

## معترضان: به دلیل ضعف مدیریت و کم کاری والی بادغیس باید برکنار شوند



شماری از باشنده‌گان ولایت بادغیس، در اعتراض به افزایش ناامنی‌ها، دیروز در شهر قلعهٔنو مرکز ولایت بادغیس، دست به تظاهرات زدند.

این معترضان، ضعف مدیریت مقام‌های محلی این ولایت را علت اصلی افزایش ناامنی‌ها و تلفات نیروهای امنیتی در بادغیس می‌خوانند و خواهان برکناری والی این ولایت استند.

باشنده‌گان ولایت بادغیس، با برپایی خیمهٔ تحصن در مقابل ساختمان ولایت بادغیس به ادامهٔ اعتراض‌های شان تأکید می کنند.

دوست محمد یکی از این معترضان گفته است: «والی، کفایت و توانایی مدیریت بادغیس را ندارد و باید استعفا بدهد؛ چون ناامنی‌ها روز به روز بیشتر شده و ساحهٔ امنیتی تنگ‌تر شده‌است».

محمد آقا، اعتراض کنندهٔ دیگر نیز بیان داشته است: «ما خواهان استعفا یا برکناری والی می‌باشیم. ما همیشه از نظام خود حمایت کرده‌ایم و می کنیم».


شورای ولایتی بادغیس، نیز اوضاع امنیتی این ولایت را نگران کننده می‌داند. برخی از اعضای این شورا می گویند که به علت بی‌توجهی مقام‌های محلی این ولایت، ناامنی‌ها در ولسوالی‌ها و ساحات اطراف شهر افزایش یافته‌اند.

محمد فرید اخی زی، عضو شورای ولایتی بادغیس گفته است: «در ولایت بادغیس ناامنی است و مردم ما بسیار متضرر شده‌اند؛ راه‌های ولسوالی‌ها مسدود است و هر روز شاهد استیم که پولیس ما کشته می‌شود، اردو کشته می‌شود و نیروهای امنیت ملی ما کشته می‌شوند. ما خواهان تأمین امنیت استیم و به عنوان نمایندهٔ مردم حق مردم خودرا می خواهیم».

اما عبدالغفور ملکزی، والی بادغیس این تظاهرات را توطیه علیه خودش می‌خواند. او می‌گوید که این معترضان به دستور بیرونی‌ها دست به تظاهرات زده‌اند و خواسته‌های شخصی دارند. وی افزود: «قطع‌نامهٔ معترضان را به مرکز روان کردیم و هرطوری که حکومت تصمیم بگیرد، قابل قبول من است. خواست معترضان مسایل شخصی و عقده‌یی است و مسایل خرد و ریزه استند. دست بیرونی هم است که مخالفانم نمی‌خواهند که کسی در بادغیس درست کار کند».

## ژوند

## چاکلېټ د کومو ناروغیو لپاره ګټور دي؟



یوې نوې څېړنې ثابته کړې چې که چېرې څوک غواړي د فلج او شکر له مهلکو ناروغیو څخه ځان وژغوري، نو په ورځني ډول یوه اندازه تیز رنګ لرونکی چاکلېټ خوړل باید خپل عادت وګرځوي.

د دغې څېړنې د تر لاسه شوو پایلو پر بنسټ، هره ورځ یو ځل تیز رنګ لرونکی چاکلېټ نه یوازې دا چې د زړه له مختلفو ناروغیو څخه مخنیوی کوي؛ بلکې د شکر په مخنیوي کې هم ډېره زیاته مرسته کوي. په دې څېړنه کې د ۱۱۰۰ هغو کسانو چې عمر یې له ۱۸ څخه تر ٦۹ کلونو پورې و، د ژوند طریقه او ورځني خواړه تر ځارنې لاندې نیول شوي وو.

په څېړنه کې ثابته شوې هغه کسان چې په ورځني ډول ۱۰۰ ګرامه چاکلېټ خوري، د هغوی په بدن کې د انسولین حساسیت کمېږي او د ځیګر فعالیت لا ښه کوي.

د واروک پوهنتون د څېړونکو په خبره، شواهد ښیي هغه خواړه چې په خپل ترکیب کې ککاو (Cacao) لري، د زړه او میټابولیک روغتیا ښه کولی شي چې په مرسته یې د فلج، زړه او شکر په څېر مهلکو ناروغیو خطر کمېږي.

څېړونکو همدا راز ویلي چې د تیز رنګ لرونکي چاکلېټ په خوړلو سره باید په ورځني ډول ورزش کول هم خپل عادت وګرځول شي، څو په دې ډول د وزن زیاتېدو مخه هم ونیول شي.

## د انسان تر ټولو هوښیار ذهن کوم دی؟

بشر چې تر اوسه هم کومې کړنې کړې، ټولې یې د مافوق هوښیار ذهن زېږنده دي. د بریالیو کسانو ځانګړنه دا ده، چې د خپلو بریاوو لپاره یې له مافوق هوښیار ذهن څخه ګټه اخیستې ده. ډېری وخت دغه ذهن ته نیمه هوښیار جهاني او د نامحدود استعداد نوم هم کارول کېږي؛ ځکه بشر چې تر اوسه هم کوم کشفیات او مهم کارونه کړي، له خپل دغه ذهن څخه یې کار اخیستی دی.

مافوق هوښیار ذهن د اکتشافاتو، لیدلورو او الهاماتو د شروع ټکی دی. دغه ذهن په پرله پسې توګه د ذهن پر نا اګاهانه سطحه کار کوي، څو مسئلې حل، موانع له منځه یوسي او موخې ته مو نږدې کړي. کله چې تاسو د ځینو مسئلو د لیکلو پر وخت موخه تعقیبوی او یا ستونزې حلوی، د مطلب لیکل د دې لامل کېږي چې ټول مسایل



ستاسو په نیمه هوښیار ذهن کې ذخیره شي، له هغه وروسته دغه څه ستاسې ابر کمپیوټر یا مافوق هوښیار ذهن ته لېږدوي. دغه ذهن بیا ۲۴ ساعت په دې اړه فکر کوي، څو وتوانېږي چې د ستونزو لپاره حللاره پیدا کړي.